# نوزيبيلې او درې وينبتان

Tessa Welch
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh
3
پښتو ps

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## نوزيبيلې او درې وينبتان


Tessa Welch
Wiehan de Jager
Darakhte Danesh



This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

په ډېر پخوا زمانو کې درې نجونې د لرګیو را ټولولو لپاره دباندې ووتلې.

دا چې ورځ ګرمه وه، نو دوی د کلي لاندې
سیند ته ولاړې، چې ولامبي. دوی د اوبو منځ
کې لمبلې او لوبې کولې.



وروسته سپی پوه شو چې نوزېبېلې هغه سره
چالاکې کړې ده. نو تر کلي پورې په منډه منډه
راغئ. مګر د نوزېبېلې ورور له غټې لرګي سره
په تمه ولاړ و، سپي چې د نوزېبېلې ورور
ولید، بېرته وګرځېد او لرې ولاړ. نور تر اوسه لا
لیدل شوی نه دی.

ناڅاپه د دوی فکر ته راغلل، چې ناوخته دی نو
په چټکۍ سره بیرته د کلي په لور روانې شوې.



کله چې سپی راغئ، نو نوزېبېلې یې لټوله او
غږ یې وکړ: نوزېبېلې، چېرته یې؟ لومړني
ویښته وویل، زه دلته یم د کټ لاندې، دوهم
وویل زه دلته یم د ور شا ته، دریم وویل زه
دلته یم په جونګړه (کلبه) کې.

هغوی کور ته نږدې شوې وې چې نوزيبېلې خپل لاس پر خپلې غاړې کېښود، او ګوري چې خپله غاړه کی یې هېره کړې ده. هغې خپلې ملګرو ته وويل: هيله کوم له ما سره راشئ! خو هغوی وويل:" ډېره ناوخته ده".



څنګه چې سپی ووته، نوزيبېلې د خپل سر څخه درې ويښتان را واخستل. هغې يو ويښته د کټ لاندې کېښود، يو يې د ور تر شا کېښود او يو يې په جونګړه (کلبه) کې کېښوده، او په ډېره چټکۍ سره خپل کورته په منډې ولاړه.

نو نوزېبېلې سیند ته یوازې ولاړه، خیله غاړه کې یې پیدا کړه او په چټکۍ سره د کور په لور روانه وه چې په تیارو کې ورکه شوه.



هره ورځ نوزېبېلې مجبوره وه چې خواړه پاخه کړي، جارو وکړي او د سپي لپاره جامې ومينځي. بلاخره یوه ورځ سپی ووېل: نوزېبېلې، زه نن د ملګرو لیدو ته ځم. مخکې له دې چې زه بېرته راشم، کور جارو کړه، خواړه پاخه کړه او زما کالي ومینځه.

په لاره کې یې یوه روښنايي ولیده چې له یوه
کوچني کور څخه راوځي. هغې(نوزېبېلې) د
روښنايي په لور ورغله. یوه دروازه یې ومندله
او ويې ټکوله.



وروسته سپي وويل: زما لپاره د خوب ځای
تیار کړه! نوزېبېلې ځواب ورکړ، ما د سپي
لپاره هېڅکله د خوب ځای نه دی تیار کړی.
سپي وويل: ځای تیاروې یا ودې خورم! نو
نوزېبېلې د خوب ځای هم تیار کړ.

عجيبه دا وه چې د نوزېبېلې لپاره يو سپی ور خلاص کړ او ويې ويل: ته څه غواړې؟ نوزېبېلې وويل: زه ورکه شوې يم او د خوب لپاره ځای ته اړتيا لرم. سپي وويل: دننه راشه، کنه خورم دې! نو نوزېبېلې دننه ورغله.



وروسته سپي وويل: زما لپاره خواړه پاخه کړه! هغې وويل: مګر ما د سپي لپاره هېڅکله پخلی نه دی کړی. سپي وويل: پخوې يې يا ودې خورم! نو نوزېبېلې د سپي لپاره خواړه چمتو کړل.